Preview (1 / 10) - ketabton.com



همکار مسلکي اکاډمي
HAMKAR PROFESSIONAL ACADEMY
HPA
2024 1403

۲ ټوک

# لیک او لوست زده کړه

Preview (2 / 10) - ketabton.com



















# لیکوالان



برکت الله همکار
د همکار مسلکي اکاډمۍ بنسټګر



ثناء الحق غورځنګ
د همکار مسلکي اکاډمۍ مدیر

Preview (3 / 10) - ketabton.com

# لیک او لوست

# زده کـړه

## دویم ټوک

لیکوالان

برکت الله همکار او ثناء الحق غورځنګ

Preview (4 / 10) - ketabton.com

# سریزه

**د قلم او پوهې خدای تعالی په سپېڅلي نامه**

**الحمدلله ثم الحمدلله همکار مسلکي اکاډمي د ننګرهار ولایت په اوومه ناحیه کې له څو کلونو راهیسې د انګلیسي ژبې، کمپیوټر، ویناوالۍ ترڅنګ د لیک او لوست د زده‌کړې په برخه کې خپلو هېوادوالو ته صادقانه خدمت کوي. د الله تعالی په فضل او د ژمنو ښوونکو په هڅو سره، تر اوسه سلګونه او زرګونه د هېواد بچیانو ته د پښتو لیک او لوست د زده‌کړې زمینه برابره شوې ده.**

**د همدې موخې د لا پیاوړتیا لپاره دا د لیک او لوست نصاب ترتیب شوی، تر څو هغه هېوادوال چې د سواد له نعمت څخه بې‌برخې پاتې شوي، وکولای شي په اسانه، تدریجي او اغېزمن ډول د پښتو ژبې لوستل او لیکل زده کړي. په دې نصاب کې د زده‌کوونکو د عمر، ذهني کچې او ورځنیو اړتیاوو ته ځانګړې پاملرنه شوې او درسونه له اسانه څخه ستونزمن ته په منظم ترتیب برابر شوي دي.**

**په دې تعلیمي نصاب کې یوازې د تورو پېژندنه نه، بلکې د سم لوست، ښکلي لیک، املا، ساده ګرامري اصولو او د ورځني ژوند له اړتیاوو سره سم د جملو پر زده‌کړه تمرکز شوی دی، څو زده‌کوونکي وکولای شي په عملي ډول له خپل سواد څخه ګټه واخلي. همدارنګه، ټول مثالونه، تمرینونه او متنونه د افغاني ټولنې له کلتور، ارزښتونو او چاپېریال سره سم انتخاب شوي دي.**

**همکار مسلکي اکاډمي په دې باور ده چې لیک او لوست د فردي او ټولنیز پرمختګ بنسټ دی، او بې‌سوادي د فقر، ناپوهۍ او شاته پاتې کېدو له سترو لاملونو څخه شمېرل کېږي. له همدې امله، دا نصاب د تجربې، اخلاص او مسلکي معیارونو پر بنسټ چمتو شوی، څو د هېواد د سواد لوړولو په لاره کې یو ګټور او دوامدار ګام واوسي.**

**په پای کې له ټولو ښوونکو، روزونکو او زده‌کوونکو څخه هیله کېږي چې د دې نصاب له محتوا څخه په سمه توګه استفاده وکړي، تمرینونو ته جدي پاملرنه وکړي او د زده‌کړې دا سپېڅلې لاره په مینه، حوصله او دوام تعقیب کړي. الله تعالی دې وکړي چې دا هڅه د علم د خپرېدو، د ټولنې د روښانتیا او د هېواد د ابادۍ سبب وګرځي.**

**په درنښت**

**برکت الله همکار**

Preview (5 / 10) - ketabton.com



# پنځم څپرکی

# س

## سوله

سوله د الله ج ستر نعمت دی.

یو مسلمان د بل مسلمان ورور دی.

مونږ باید هیڅکله جنګ ونکړو.

سوله د خلکو په یووالي ساتل کیږي.

| معنا | لغات |
| --- | --- |
| پیرزوینه | نعمت |
| لوی | ستر |

کورنۍ دنده: زده کوونکي دې پورته درس په خپلو کتابچو کې ولیکي.

Preview (6 / 10) - ketabton.com

| د لاندې کلمو توري بېل بېل ولیکئ او د (س) توری په نښه کړئ | |
|---|---|
| سوله | س و ل ه |
| اسمان | |
| لاس | |
| مسلمان | |
| ساعت | |
| ساتل | |

| د لاندې جلا جلا تورو څخه کلمه جوړه کړئ | |
|---|---|
| س و ل ه | سوله |
| ا س ل ا م | |
| ل ا س | |
| م س ل م ا ن | |
| س ا ع ت | |

Preview (7 / 10) - ketabton.com



# ش

# شپیلۍ

دا شپیلۍ ده.

شپیلۍ خوږ غږ لري.

شپونکی شپیلۍ غږوي.

شبیر ته یې پلار له بازار څخه شپیلۍ راوړې.

| لغات | معنا |
|---|---|
| شپونکی | رمه څروونکی |

کورنۍ دنده: زده کوونکي دې پورته درس په خپلو کتابچو کې ولیکي.

Preview (8 / 10) - ketabton.com

| د لاندې کلمو توري بېل بېل ولیکئ او د (ش) توری په نښه کړئ | |
|---|---|
| شربت | ش ر ب ت |
| شبیر | |
| شپیلی | |
| شیشه | |
| شات | |
| شتمن | |

| د لاندې جلا جلا تورو څخه کلمه جوړه کړئ | |
|---|---|
| ش ر ب ت | شربت |
| ش ت م ن | |
| ش ا ت | |
| ش ی ش ه | |
| ش ب ي ر | |

Preview (9 / 10) - ketabton.com



# ښ

## ښاپیرۍ

ښاپیرۍ ښوونځي ته ځي.

زموږ ښوونځی ډېر ښکلی دی.

زه خپل ښوونځي سره ډېره مینه لرم.

موږ خپل ښوونځی پاک ساتو.

| لغات | معنا |
|---|---|
| ښوونځی | مکتب |
| پاک | صفا |

یادونه : ښوونکی دې زده کوونکو ته د زده کړې او ښوونځي پاک ساتلو اهمیت بیان کړي.

Preview (10 / 10) - ketabton.com

| د لاندې کلمو توري بېل بېل ولیکئ او د (ښ) توری په نښه کړئ | |
|---|---|
| ښکلی | ښ ک ل ی |
| پښتو | |
| ښار | |
| اوښ | |
| ښوونځی | |
| غوښه | |

| د لاندې جلا جلا تورو څخه کلمه جوړه کړئ | |
|---|---|
| ښ و و ن ځ ی | ښوونځی |
| پ ښ ت و | |
| ښ ا ر | |
| غ و ښ ه | |
| ښ ک ل ی | |

*PREVIEW*

# You've reached the end of the preview.

Purchase the full book to continue reading.

**Buy this book - ketabton.com**

https://ketabton.com/books/QfHICefCI7U

Preview on ketabton.com. Rights remain with the author or publisher.